This translation is out of date. Use it along with the current VIS in English. Visit www.immunize.org/vis for details.

د واکسین د معلوماتو بیانیه

MMR واکسین (شری، ډډبغونی، او روبیلا):
په هغه څه چې باید پوه شئ

د واکسین معلوماتو ډیرې بیانیې په هسپانیه ایې او نورو ژبو موجود دي.
وګورئ www.immunize.org/vis

Hojas de información sobre vacunas están disponibles en español y en muchos otros idiomas.
لیدنه وکړئ www.immunize.org/vis

1. ولې باید واکسین شم؟

د **MMR** واکسین د **شری، ډډبغونی**، او **اوربیلا** څخه مخنیوی کولی شي.

شری (M) د تبې، ټوخی، پوزې بهیدنې، او سره او اوبلنې سترګو لامل کړئي چې له هغې وروسته په عام ډول سرې دانې چې ټول بدن ته پوښښ ورکوي رامنځته کیږي. دا د ګنګسوالی (چې اکثره تبې سره تړلی وي)، د غوږونو ناروغي، اسهال، او د سږو پرسوب لامل ګرځي. ډیر لږ، شری د مغزو زیان یا مړینې لامل ګرځي.

ډډبغونی (M) د **تبې، سردرد، عضلاتو درد، ستړیا، د اشتها له لاسه ورکول، او د غوږونو لاندې د لعابو غدې د پرسوب او حساسیت لامل ګرځي. دا د کونډوالی، د ماغزو پرسوب او/یا شوکي نخاع پوښښ، د خصیو یا تخمدانونو درد لرونکی پرسوب، او ډیر لږ، د مړینې لامل ګرځي.**

روبیلا (R) د تبې، ستونی درد، سرې دانې، سردرد، او د سترګو خارښت لامل ګرځي. دا په نیمایي ځوانانو او مشرانو ښځو کې د مفصلونو پرسوب لامل ګرځي. که چیرې یو ځوک د امیندوارۍ پر مهال په روبیلا اخته شي، کیدای شي ماشوم یې ضایع یا جدي پدایښتي معلولیت سره وزیږل شي.

اکثره هغه خلک چې MMR واکسین شوي وي د ټول ژوند لپاره به خوندي وي. د واکسینونو او د واکسیناسیون لوړې کچې له امله دغه ناروغي په متحده ایالاتو کې ډیره عامه نه ده.

2. د MMR واکسین

ماشومان د MMR واکسین دوه ډوزونو ته اړتیا لري:
لومړی ډوز: له 12 څخه تر 15 میاشتو عمر کې
دوهم ډوز: دوهم ډوز له 4 څخه تر 6 کلنۍ پورې

هغه ماشومان چې د 6 او 11 میاشتو عمر کې له متحده ایالاتو څخه بهر سفر کوي باید له سفر وړاندې د MMR واکسین یو ډوز ترلاسه کړي. دغه ماشومان باید اوږدمهاله خوندیتوب لپاره په وړاندیز شوی عمر کې 2 اضافي ډوزونه ترلاسه کړي.

ډیر عمر لرونکي ماشومان، نوي ځوانان، او مشران هم که چیرې له وړاندې څخه د شری، ډډبغونی، او روبیلا معافیت ونه لري باید د MMR واکسین دوه ډوزه ترلاسه کړي. ستاسې روغتیایي پاملرنی وړاندې کوونکی تاسې سره د دې مشخص کولو کې چې څو ډوزونو ته اړتیا لري مرسته کولی شي.

ځینو خلکو ته د ډډبغونی خپرېدو حالت کې د MMR د درېیم ډوز سپارښتنه کېدلی شي.

د MMR واکسین د نورو واکسینونو په څیر ورته وخت کې ورکول کیږي. له 12 میاشتو څخه تر 12 کلونو عمر لرونکي ماشومان باید د MMR واکسین په یو ځل د چیچک واکسین سره یو ځای، چې MMRV نومیږي ترلاسه کړي. ستاسې روغتیایي پاملرنی وړاندې کوونکی اضافي معلومات درکولی شي.

3. خپل روغتیایي پاملرنی وړاندې کوونکی سره خبرې وکړئ

که واکسین ترلاسه کوئ خپل واکسین وړاندې کوونکی ته خبر ورکړئ:

د MMR یا MMRV واکسین پخوانی ډوز څخه وروسته مو د **الرژي غبرګون درلود**، یا کوم **شدید، ژوند ګواښونکي الرژي لرئ.**

امیندواره **ده** یا فکر کوي چې امیندواره ده – امندواره کسان باید د MMR واکسین ترلاسه نه کړي

د معافیت **کمزورۍ سیستم لري**، یا **د معافیت سیستم ارثي یا مورزادي ستونزې تاریخ لرونکي والدین، ورو، یا خور ولري**

کله دا حالت لرلی وي **چې په اسانۍ سره ټپي یا خونریزي کوي.**

په دې وروستیو **کې یې د وینې تزریق یا د وینې نور تولیدات کارولی وي**

نري رنځ **ولري**

تیرو 4 اوونیو کې یې **نور واکسینونه ترلاسه کړی وي**

ځینو پیښو کې، ستاسې روغتیایي پاملرنی وړاندې کونکی کولی شي د MMR واکسیناسیون راتلونکې کتنې ته وځنډوي.

U.S. Department of Health and Human Services
Centers for Disease Control and Prevention

عادي ناروغي لکه زکام لرونکي کسان کولی شي واکسین وکړي. هغه خلک چې متوسطه یا شدیده ناروغي لري په عام ډول باید MMR واکسین ترلاسه کولو څخه وړاندې د بیرته رغېدو انتظار وکړي.

ستاسې روغتیایي پاملرنه وړاندې کوونکی اضافي معلومات درکولی شي.

4. د واکسین غبرګون خطرونه

د MMR واکسیناسیون څخه وروسته له پیچکاري سره د لاس ټپ یا د واکسین د ځای سوروالی، تبه، او عادي سړې دانې پېښېدلی شي.

ځینې وختونه MMR واکسیناسیون څخه وروسته غومبورو او غاړه کې د غدو پړسوب یا مفصلونو کې لنډمهاله درد او شخوالی (اکثره نویو ځوانانو یا مشرانو ښځو کې) هم پېښېدای شي.

ډېر جدي غبرګونونه ډېر لږ پېښېږي. په دې کې ګنګسوالی (اکثره تبې سره تړلې وي) یا د وینې د پلاکت لنډمهاله ټیټه شمېره چې غیر عادي خونریزي یا ټپونو لامل ګرځي شامل دي.

د معافیت جدي ستونزې لرونکو خلکو کې، دغه واکسین کېدای شي د یوې داسې ناروغۍ چې ژوند ګواښوونکی وي لامل شي. د معافیت جدي ستونزې لرونکي خلک باید د MMR واکسین ونه کړي.

ځینې وخت خلک د واکسیناسیون په ګډون طبي کړنلارې څخه وروسته کمزوری کېږي. که د ګنګسوالی، لید کې بدلون یا غوږونو کې انګازې احساسوئ خپل وړاندې کوونکی خبر کړئ.

د هر درمل په څېر، ډېر لږ امکان لري چې واکسین د الرژي شدید غبرګون، نور جدي ټپ یا مړینې لامل شي.

5. که چېرې کومه جدي ستونزه وي؟

د الرژي غبرګون کېدای شي وروسته له هغې چې واکسین شوی کس کلینیک پرېږدي که د الرژي شدید غبرګون نښه ووینئ (سړې دانې، د مخ او ستونی پړسوب، ساه اخیستو کې ستونزه، د زړه چټک ضربان، ګنګسوالی، یا کمزوري)، له **1-1-9 سره اړیکه ونیسئ** او دغه کس تر ټولو نژدې روغتون ته یوسئ.

هغو نښو لپاره چې تاسې اندېښمن کوي، خپل روغتیایي پاملرنه وړاندې کوونکی سره اړیکه ونیسئ.

منفي غبرګونونه باید د واکسین منفي پېښو راپور ورکونې سیستم (VAERS) ته راپور ورکړل شي. په عام ډول ستاسې روغتیایي پاملرنه وړاندې کوونکی دغه راپور ډکوي، یا تاسې یې په خپله ډک کړئ. د VAERS وېب پاڼې **www.vaers.hhs.gov** څخه لیدنه وکړئ یا له **1-800-822-7967** سره اړیکه ونیسئ. VAERS *یوازې د غبرګون راپور ورکونې لپاره ده، او د VAERS کارکوونکي طبي مشوره نه ورکوي.*

6. د واکسین د ټپ د جبران ملي پروګرام

د واکسین د ټپ د جبران ملي پروګرام (VICP) یو فدرالي پروګرام دی چې هغو خلکو لپاره چې ځانګړو واکسینونو له لوري ټپي شوي دي جبران لپاره جوړ شوی و. د واکسیناسیون له امله د ټپ یا مړینې اړوند د تورونو ادعاوې د ثبت لپاره د وخت محدودیت لري، چې کېدای شي د دوو کلونو په اندازه لنډه وي. د اضافي معلوماتو ترلاسه کولو یا ادعا ثبتولو لپاره د VICP وېب سایټ څخه لیدنه وکړئ **www.hrsa.gov/vaccinecompensation** یا له **1-800-338-2382** سره اړیکه ونیسئ.

7. څنګه نور زده کولی شم؟

خپل روغتیایي پاملرنه وړاندې کوونکی څخه پیوښتنه وکړئ.

خپل سیمه ییز یا ایالتي روغتیایي څانګې سره اړیکه ونیسئ.

د واکسین کڅوړو دننه کولو او اضافي معلوماتو لپاره د خوړو او درملو اداري (FDA) وېب پاڼې څخه **www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines** لیدنه وکړئ.

د ناروغۍ د کنترول او مخنیوی مرکزونو (CDC) سره اړیکه ونیسئ:

- له **1-800-232-4636** (**1-800-CDC-INFO**) سره اړیکه ونیسئ یا
- د CDC وېب پاڼې **www.cdc.gov/vaccines** څخه لیدنه وکړئ.

Pashto translation of the MMR Vaccine VIS provided by Multilingual Services, CDC